د افغانستان اسلامي امارت

د لوړوزده کړو وزارت

میرویس خان نیکه زابل د لوړوزده کړو مؤسسه

د مالي او اداري چارو معاونیت

# د انټرنیټ د استعمال او بیا کتنې طرزالعمل

ترتیب کوونکي: د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت

کال: ۱۴۰۲ هـ ش

# دمیرویس خان نیکه زابل دلوړوزده کړو مؤسسې د انټرنیټ طرزالعمل

سریزه: په نني عصر کښې انترنیت ته لاسرسی یو له ضروروي ارتیاوو ګڼل کیږي، له انترنیټ څخه په استفاده د ژوند په مختلیفو چارو کښې اساني رامنځته کیدلی سي. په همدې هدف میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې خپلو استادانو، محصلینو، او اداري کارمندانو ته د انترنیټ زمینه بر ابره کړې ده ترڅو ټول استادان، محصلین او اداري کارکوونکي د خپلو څیړنو او اداري کارونو له پاره ترې استفاده وکړي او د نني عصر له تکنالوژیکي، اقتصادي، سیاسي او کلتوري تغیراتو څخه آګاه واوسي. د انټرنیټ دغه طرزالعمل په پنځه (۵) مادو کښې ترتیب سوې او صحت لري .

اوله ماده:

د انټرنیټ دغه طرزالعمل د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو، اداري کارمندانو، ملازمینو او محصلینو له پاره ترتیب سوې ده.

دوهمه ماده:

د میرویس خان نیکه زابل د لوړوزده کړو مؤسسې استادان ، محصلین ، اداري کارکوونکي او ملازمین کولی سی د انټرنیټ له خدماتو څخه یوازی د مؤسسې په انګر کښی ګټه پورته کړی. له انګر څخه دباندی د انټرنیټ خدمات نه وړاندي کیږي.

دریمه ماده:

د انټرنیټ څخه ګټه اخیستنه

- انټرنیټي خدمات به د تحصیلي موخو له پاره کارول کیږي.
- د انټرنیت استمعال باید د ملي منافعو او اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کښې نه وي.
- هر محصل ته به معلومه اندازه انټرنیټ ورکول کیږي ترڅو استفاده ترې وکړي.
- استادان کولای شي په هردرسي ساعت کښې له انټرنیټ څخه په استفاده تدریس وکړي.

څلورمه ماده:

کوم کسان به انټرنیټ ته لاسرسی پیداکوي:

1. استادان
2. محصلین

CamScanner

3. اداري کارکوونکي
4. ملازمین

## پنځمه ماده:

### د انټرنیټ وېش یا تقسیم

1. د انټرنیټ د وېش له پاره به مشخص کس ګمارل کېږي.
2. هرکس ته به ځانګړی اکاونټ جوړېږي.
3. هرکس ته به د ورځې په جریان کې په معلومه اندازه انټرنیټ ورکول کېږي.
4. نوموړی کس به د انټرنیټي خدماتو د تقسیم پروسه بې له کوم فرق څخه ترسره کوي.
5. د انټرنیټ د ضعیفوالي او مشکل په وخت کې به د اړونده اداري سره تماس نیول کېږي.
6. د هري پوهنځي د څلورم ټولګي محصل ته به د لاسرسي پوره حق ورکول کېږي.

روح الله (مشـــــال)

میرویس خان نیکه د لوړو زده کړو مؤسسې رئس